**(E) برخه:پلان او بودیجه**
**(Plans and Budgets)**

## دوهم لوست: د بوديجي درک کول او د مالي نسبتونو تجزيه او تحليلول

### د زده کونکو دزده کړي موخي يا هدفونه:

زده کونکي به په دي لوست کي د لاندې موخو سره اشنا شي:

1. د ټولو کاربارونو لپاره دبوديجې تهيه کول يا برابرول.
2. د شبث د بوديجې فهم او درک کول (enterprise)
3. د ونډه ئيزې بوديجې تهيه کول يا برابرول (partial budgets)
4. دمالي نسبتونو نه په استفادي سره دمالي ميلان تجزيه او تحليل کول.
5. د خالصو ارزښتونو له شرحې يا راپور نه په استفادي سره د مالي نسبتونو محاسبه کول ( net worth)
6. د لاسته راوړني د شرحې نه په استفادې سره د مالي نسبتونو محاسبه کول.

**د لوست ورکولو لپاره وړانديز شوی وخت:** يو ساعت

**وړانديز شوی منابع يا زيرمي:** لاندې منابع کولی شي چي ددي لوست په تدريس کولو کي ګټوري واقع شي:

- ددي درسي پلان وړاندي کول د پاورپواينټ په پروګرام کي په ګوته شوي دي
-

Gibson, Jerry D., et al. *Agribusiness: Management, Marketing, Human Resources Development, Communications, and Technology*. Danville, Illinois: Interstate Publishers, Inc., 2001. (Textbook, Chapter 9)
Steward, Jim, Raleigh Jobes, James Casey, and Wayne Purcell. *Farm and Ranch Business Management*. Moline, Illinois: Deere & Company, 1992. (Text and Student Manual, Chapter 4)
*Decisions & Dollars*. Alexandria, Virginia: The Council for Agriculture Education, 1993. (Curriculum Binder, Unit 1)
Barry, Peter, Paul Ellinger, John Hopkin, and C.B. Baker. *Financial Management in Agriculture*. Danville, Illinois: Interstate Publishers, Inc., 1995 (Chapter 3)

### د سامانونو، لوازمو، شيانو او آسانتياوو فهرست يا لړليک

د ليکلو لپاره سپينه ورقه يا صفحه يا تشه ورقه

د پاورپواينټ په خاطر پراجکتور(غټ ښودونکی)

د پاورپواينټ سلايدونه يا صفحي

روښانه سلايدونه

د زده کونکو د ورقو کاپي

**اصطلاح ګاني:**لاندې اصطلاح ګاني به په دې لوست کي تر استعمال لاندې واقع شي(ذکر شوي اصطلاح ګاني د پاورپواینټ په ۲ شمیره سلاید کې هم وړاندې شوي دي):

1. Budget د راغلې او تللي بودېجي حساب
2. Current debt-to-worth ratio
3. Current ratio جارى نسبت
4. Enterprise budget د تشبث بودېجه
5. Fixed ratio ثابت نسبت
6. Gross ratio ناخالص نسبت
7. Leverage ratio نقدينگى نسبت
8. Net capital ratio د خالصې یا سوچه پانګې نسبت
9. Operating ratio عملياتى نسبت
10. Partial budget ونډه ئیزه بودیجه
11. Whole business budget د ټول کاروبار بودیجه
12. Working capital په دوران کي پانګه یاسرمایه

په زړه پوري تګلاره: له زده کونکو نه غواړئ ترڅو د جوړونې بودیجه (زده کول او تمریني) برابره او تهیه کړي. له هغوي نه غوښتنه وکړئ چي د صنعتي کاروبار لپاره بودیجه چي له هغي سره بلدتيا او دلچسپي لري تهیه او برابره کړي. له زده کونکو نه پوښتنه وکړئ چي هغوي په څه ډول بودیجې ته انکشاف ورکوي؟ د ارزښتونو د ټاکنيې یا تعین لپاره له کومو منابعو څخه استفاده کوي؟ موضوع ته ددي لوست لومړی موخې سره اړیکه ورکړئ!

## د محتویاتو خلاصه یالنډیز او د لوست ستراتیژي

7. **لومړی موخه یا هدف:** د ټول کاروبار د بودیجي تهیه کول او برابرول.

**آټکل شوی مسله :** د ټول کاروبار بودیجه څه ده ؟

**(د پاورپواینټ ۳ شمیره سلاسد)**

**۱ -** بودیجه له یوه پلان نه عبارت ده. د ټول کاروبار بودیجه**(** ***whole business budget*** **)** د ټول کاروبار له اجزاوو او مرکباتو څخه خارنه کوي.

**(د پاورپواینټ ٤ شمیره سلاسد)**

**الف ) د بودیجې د تهیه کولو یا برابرولو لپاره دلایل:**

– بودیجه د مالي مسوولیتونو او وظیفو پلان کولو په غاړه لري.

– د قرضې يا پور د اخستلو لپاره معلومات په لاس راځي په دي معني چي د قرضي يا پور په اخستلو کي ګټور او مثمر وي.
– فرصتونه تر ازمايښت لاندې قرار نيسي. ترڅو بديلي لاسته راوړنې په لاس راشي مخکې له دې نه چي منابع سرمايه ګذاري کړل شي.
– کار و بار تنظيم او ترتيب کوي.

**(د پاورپواينټ ۵ شميره سلاسد)**

ب) هغه منابع چي له هغي نه د بوديجي په جوړولو کي استفاده کيږي، په غير له شکه د ارقامو او اعتبارلرونکو معلوماتو په لاس راوړل، د بوديجي د تهيه کولو لپاره ډير مهم دي. له لاندې منابعو نه د معلوماتو او اقامو په جمع کولو کي استفاده کيدلی شي:

– دکاروبار واقعي اسناد او سوابق.
– د مالي وضيعيت ارقام او د راپور خلاصه يالنډيز
– نمونه ئي ارقام
– له ورته يا مشابه کاروبار ارقام او معلومات
– د کمپيوټرمنابع يا محاسبه

**(د پاورپواينټ ٦ شميره سلاسد)**

ج) د ټول کاروبار د بوديجي تهيه کول د يولړ محدوديتونو لرونکي وي
– راتلونکي اقدامات په وړانديزي شوو ستونزو سره کيدلی شي(د توليد قيمتونه او مصارف).
– د مصارفو لړ نيول او د لاسته راوړنې يا عايد ته زيات ميلان
– د بوديجې تهيه کول د وخت ضايعه کول دي.

له **TM: 2-1** درسي يا لوستي موادو څخه د بوديجې جوړونې د تشريح د احتوا په خاطر استفاده وکړئ.

دوهمه موخه يا هدف : د تشبث د بوديجې فهم او درک کول(enterprise)

**آټکل شوی مسله:** د تشبث بوديجه (enterprise) څه شی دی؟

**(د پاورپواينټ ۷ شميره سلاسد)**

**۱ – تشبث بوديجه (*enterprise budget*)** د يو مشخص تشبث پوري مربوطه مصارف او لاسته راوړنې له ټول کاروبار نه تعين او ټاکي.
**الف )** تشبث (Enterprise) --- د ټول کاروبار يوه برخه په نامه د تشبث سره ياديږي. د تشبث بوديجه ( *Enterprise budget*) --- د ټول کاروبار د يوې برخې د مصارفو او لاسته راوړنو نه عبارت دي .

**(د پاورپواينټ ۸ شميره سلاسد)**

**الف)** د تشبث بوديجه ددي لپاره تراستفادي لاندي نيول کيږي ترڅو چي د تشبث مالي ضروريات يا اړتياوي تخمين يا وټاکل شي.

- د کاروبار د سرمايي يا پانګې ضروريات يا اړتياوي ټاکي چي د تشبث لپاره ضروري دي..
- د کارګر يا کارمند ضرورتونه تعين يا ټاکي چي په تشبث کي له هغې نه کار اخستل کيږي.

❖ قرض دارانو ته د پیسو د قرض د استعمال ځایونه په نښه کوي. چي پیسي په څه ډول سره په مصرف رسیږي.

**(د پاورپواینټ ۹ شمیره سلاسد)**

**الف )** د تشبث د بودیجي د تهیي او ترتیب لپاره دري اساسي یا بنسټیزي برخي یا اجزاوي شتون لري چي په لاندي توګه سره تشریح کیږي:

❖ لاسته راوړنه دا رانښایي چي عاید تولید شوی دی.
❖ مصارف باید چي د ثابتو او متحولو یا متغیرو مصارفو د کټګوری ښودونکي وي.
❖ عایدات د پشبث نفع یا ګټه په ګوته کوي.

له **TM: 2-2**درسي یا لوستي موادو نه په استفادي سره د تشبث د بودیجې اصول د زده کونکو لپاره تشریح کړئ.

**دریمه موخه یا هدف:** د ونډه ئیزې بودیجې تهیه کول (partial budgets)

**آټکل شوی مسله:** ونډه ئیزه بودېجه (partial budget) څه شی دی ؟

**(د پاورپواینټ ۱۰ شمیره سلاسد)**

**۱ - جزيي یا ونډه لرونکي بودیجه (*partial budget*)مصارف او لاسته راوړني دممکنه تغیر په باره کي په کاروبار او تشبث کي ښايي.**

**(د پاورپواینټ ۱۱ شمیره سلاسد)**

**الف ) د هغه تغیراتو بیلګي یا نموني چي د ونډه لرونکي بودیجه یي قبلوي شامل دي په:**

❖ کله چي تشبث ته پراخوالی ورکول کیږي.
❖ کله چي د بدیل پشبث علاوه کیږي.
❖ کله چي د تولید په عملونو کي تغیر منځته راځي
❖ کله چي نوي تجهیزات پیرودل کیږي.

**(د پاورپواینټ ۱۲ شمیره سلاسد)**

**الف )** جزي یا ونډه لرونکی بودیجه (partial budget) څلورو سوالونو ته ځوابونه وړاندي کوي:

❖ کوم اضافي تولیدات به په لاس راشي؟
❖ څه مصرفونه به(د تولید قیمت) کموالی پیداکړي؟
❖ کوم مصرفونه(د تولید قیمت) به اضافه شي ؟
❖ کوم عواید به دلاسه ووځي یا د لاسه لاړ شي؟

له **TM: 2-3**درسي یا لوستي موادو څخه په استفادي سره چي ونډه لرونکی بودیجه( **Partial Budget**) په بر کي لري زده کونکو ته وظیفه ورکړئ ترڅو د **2-1**کاري صفحي د ونډه لرونکي بودیجي د تهیه کولو لپاره په کاریوسي. یقیناً له زده کونکو سره د لوست ددي موخې د محتواياتو په برخه کي مرسته کوي.

**څلورمه موخه یا هدف:** د مالي نسبتونو نه په استفادې سره دمالي میلان تجزیه او تحلیلول.

**آټکل شوی مسله:** مالي نسبت له څه شی نه عبارت دی؟

(**د پاورپواینټ ۱۳ شمیره سلاسد**)

**۱ – مالي نسبتونه مالي ازرښت لرونکي معلومات وړاندي کوي :**

- مالي نسبتونه د کاروبار قوي نقطي او ضعیفي نقطي په ګوته کوي.
- مالي نسبتونه د قرض یا پور ورکونکی لپاره اهمت یا ارزښت لري.
- د قرض یا پور اخستلو لپاره د مالي نسبتونو لپاره ضرورت یا اړتیاوي لیدل کیږي.

**له 2-4 درسي یا لوستي موادو نه استفاده وکړئ ترڅو څلورمه موخه یاهدف تر بیا کتنې لاندي ځآی ونیس.**

**پنځمه موخه یا هدف :**د خالص ازرښت(net worth) د شرحې یا راپور نه په استفادي سره د مالي نسبتونو محاسبه کول

**آټکل شوی مسله:**مالي نسبتونه د مالي وضیعت د ارپور لپاره په څهٔ ډول سره محاسبه کیدلی شي**؟**

۱ - مالي تحلیلي نسبتونه د څو دقیقو په دوران کي محاسبه کیدلی شي.

(**د پاورپواینټ ١٤ شمیره سلاسد**)

**الف )** فعلي نسبت یا جاري نسبت د لنډي مودي د توانایي ټاکونکی دی ترڅو چي قرض یا پور تادیه کړل شي.

- فعلی نسبت = جاري یا روانې شتمنی تقسیم پر جاري ورکونو.
- 1:2 د قبول وړ وي.

(**د پاورپواینټ ۱۵ شمیره سلاسد**)

**الف )** جاري قرض یا پور فعلي ارزښتونه(*Current debt to worth ratio*) نسبت د خالص ارزښت په مقابل کي مقایسه یا پرتله کوي.

- د جاري یا روانو ورکړی شویو مجموعه تقسیم په خالص ارزښت باندې.
- خالص ارزښت ( **Net worth**) باید د جاري یا روانو قرضو په مقایسه یا پرتله زیات وي.

(**د پاورپواینټ ١٦ شمیره سلاسد**)

**الف )** د ورکوني یا اچونې د توانايي نسبت(solvency) ، د قرض یا پور مجموعې ته له خالص ارزښت سره اړیکه ورکوي.

- د ورکونو یا اچونو مجموعه تقسیم په خالص ارزښت باندې.
- لوړ نسبتونه په دي معني چي قرض ورکونکي لویه ونډه په شتمنۍ کي لري البته د قرض یا پور ورکونکو(creditors) د احتمالي لوي حطر په شمول .

**(د پاورپواینټ ۱۷ شمیره سلاسد)**

**الف )** (Net capital ratio (solvency د خالصې پانګې یا سرمایي نسبت(د په کاراچونې توانايي) د ټولو قرضونو یا پورونو توانايي اندازه کوي.

- Net capital ratio =مجموعه د شتمنیو مجموعه تقسیم پر د ورکونې په مجموعو.
- باید چي د یو په یو له نسبت څخه لوي وي ترڅو کاروبار وکولی شي ورکوني په کار واچوي.

**(د پاورپواینټ ۱۸ شمیره سلاسد)**

**الف )** Working capital په دوارن کي سرمایه یا جاري (روانه سرمایه) د جاري یا روانو قرضونو د بیا په کاراچونې د توانايي ښودونکي دي.

- Working capital = فعلي یا اوسنی شتمني منفي فعلي یا اوسنۍ جاري ورکوني.
- پایله یا نتیجه باید چي مثبته وي.

د خالصو ارزښتونو د شرح د احتوا کولو په خاطر له **TM: 2-5** درسي یا لوستي موادو څخه استفاده وکړئ. زده کونکو ته وظیفه یا دنده ورکړئ ترڅو چي د خالصو ارزښتونو نسبتونه تعین یا وټاکي. دا وظیفه ورکونه د زده کونکو لپاره د دي موخي د محتویاتو په استعمال کي ډیره ګټوره واقع کیږي.

**شپږمه موخه یا هدف:** د لاسته راوړنې له شرحې نه په استفاده کولو سره د مالي نسبتونو محاسبه کول.

**آټکل شوی مسله:** مالي نسبتونه د لاسته راوړنې د مالي وضیعت لپاره په څۀ ډول سره محاسبه کیدلی شي؟

۱ - د نسبت تحلیل د یو کاروبار د لاسته راوړني د میلان د تشخیص او تعین لپاره تراستفادي لاندي نیول کیږي.

**(د پاورپواینټ ۱۹ شمیره سلاسد)**

الف ) نسبت عملیاتي مصارف او ناخالصه لاسته راوړنه مقایسه یا پرتله کوي.

- *Operating ratio*یا عملیاتی نسبت = ټول عملیاتي مصارف تقسیم په ناخالصه لاسته راوړنه.
- ښکتنی یا لاندنی نسبت ښه دی.

**(د پاورپواینټ ۲۰ شمیره سلاسد)**
**الف )** ثابت نسبتونه (*Fixed ratio*) ثابت مصارف د ناخالصه لاسته راوړني په وړاندي مقایسه یا پرتله کوي.

- Fixed ratio  یا ثابت نسبت = د ثابتو مصارفو مجموعه تقسیم په ناخالصه لاسته راوړني.
- ښکتنی یا لاندنی نسبت ښه دی.

**(د پاورپواینټ ۲۱ شمیره سلاسد)**
**الف )**  ناخالص نسبت (*Gross ratio*) د مصارفو مجموعه د ناخالصو لاسته راوړنو په وړاندې مقایسه یا پرتله کوي.

- نا خالص نسبت ***Gross ratio***  =  ټول مصارف تقسم پر ناخالصه لاسته راوړنه
- ښکتنی یا لاندنی نسبت ښه دی.

د لاسته راوړنې د نسبتونو د زیاتي تشرح او روښانتیا له خاطر له درسي یا لوستي موادو څخه استفاده وکړئ. زده کونکو ته وظیفه یا دنده ورکړئ ترڅو چي له کاري صفحو(د لاسته راوړنې د تحلیل شرحه) نه په استفادې سره له زده کونکو سره مرسته وشي ترڅو د دي مقصد محتویات په عملي توګه زده کړي.

**مرور\خلاصه یا لنډیز:** ددي لوست د خلاصه کولو یا لنډیز لپاره دزده کونکو له زده کړي موخو څخه استفاده وکړئ. **(د پاورپواینټ ۲۲ شمیره سلاسد)** زده کونکي د مربوطه محتویاتو تشریح لپاره هري موخې ته وغواړئ. د زده کونکو له ځوابونو څخه کولی شی د هغه اساسي موخو یا هدفونو په شکل چي باید د تجدید نظر لاندي ونیول شي یا له مختلفو زاویو نه تدریس کړل شي، استفاده وکړئ
.

**تر اجرا کولو لاندې قرار ورکول:** تر اجراکوني لاندې ځآی ورکول کیدلی شي د زده کونکو لاندې فعالیت په برکي ونیسي: له پیوسته یا ضمیمه شوو صفحو نه استفاده وکړئ.

- WS: 2-1 له ونډه ئیزي بودیجې (a Partial Budget)نه استفاده کول
- WS: 2-2 د ناخالصو ارزښت د نسبتونو تشخیص او تعین.
- WS: 2-3د لاسته راوړنې دتجزې او تحلیل شرحه کول

**ارزیابی:** ارزیابی د لوست په موخو باندې د زده کونکو په اشناکیدو باندې باید متمرکزه وي. په دي برخه کي له مختلفو تخنیکونو نه کار اخستل کیږي او یا له نمونه ئي ازموینې نه د زده کونکو د موخو د اشنا کیدو لپاره استفاده کیدلی شي. په لیکلې بڼي سره ازموینه له دي سند سره پیوسته ، ارایه کیږي.

## نمونه ئي ازموينې ته ځوابونه

### مطابقت ورکول

1. A
2. E
3. F
4. b
5. G
6. D
7. H
8. J
9. C

### تش يا خالي ځآيونه ډک کړئ!

1. Enterprise تشبث
2. Income, expense, profit  لاسته راوړنه، مصرف، فايده يا ګټه.
3. Budget بوديجه
4. Underestimate; overestimate لږ آټکل يا تخمين کول، زيات تخمين کول.
5. Positive مثبت
6. 2:1 دوه پر يو نسبت
7. Net capital ratio د خالصې سرمايي ياپانګې نسبت
8. low لږ يا ښکته

### لنډ ځواب

1. a. 5.21:1
   b. 1.97:1
   c. 5,032,500 AFN
2. a. 0.55:1
   b. 0.11:1
   c. 0.66:1

**د مالي نسبتونو تجزیه او تحلیل او د بودیجي درک کول**

**انموني ازموینه**

**نوم :____________________**

**مطابقت ورکول**

**لارښوونه:** د صحیح ځواب په مطابق اصطلاح ارایه کړئ. د اصطلاح توری نظر په تعریف سره ولیکئ

a. operating ratio عملیاتی نسبت
b. current ratio جاري یا فعلي نسبت
c. enterprise budget بودجه تشبث
d. leverage ratio
e. working capital دوراني سرمایه یا پانګه
f. current debt-to-worth ratio
g. gross ratio ناخالص نسبت
h. net capital ratio د خالصې سرمایي یا پانګې نسبت
i. fixed ratio ثابت نسبت
j. Partial budget ونډه ئیزه یا جزي بودیجه.

___________1 عملیاتي مصارف تقسیم په ناخالصې لاسته راوړنې.

___________2 فعلي یا اوسنی شتمني منفي فعلي یا جاري ورکوني.

___________ 3 د جاري یا روانو ورکونو مجموعه تقسیم په خالص ارزښت.

__________ 4 د ثابتو مصارفو مجموعه تقسیم په ناخالصې لاسته راوړنه.

__________ 5 جاري یا رواني شتمنی تقسیم پر جاري ورکونو.

__________6 ټول مصارف تقسیم په ناخالصې لاسته راوړنې

_________ 7 د ورکوني مجموعه تقسیم پر خالص ارزښت.

_________ 8 د شتمنیو مجموعه تقسیم پر د ورکوني مجموعه

_________9 په کاروبار یا تشبث کي د تحلیل او تغیراتو د تجزي وسیله.

_________10 د یو کارو بار د مصارفو او لاسته راوړنو په ګوته کونکی وي.

**خالي یا تشې جملي په مناسبو کلمو سره ډکي کړئ:**

1. _______________ د ټول کاروبار له یوې برخې مصارفو او لاسته راوړنو نه عبارت دی.
2. د تشبث د بودیجې د تهیي او ترتیب په خاطر دري بنسټیزي اجزاوي شتون لري، چي عبارت دي له ________________________، ________________________ او ________________
3. _______ له یوه پلان نه عبارت دی.

4. دنسبت تحلیل د ______________ په تشخیص او تحلیل کي د یو کاروبار مصارف او لاسته راوړني تر استفادې لاندې نیسي.
5. دوراني سرمایه باید چي ______________ وي.
6. غوښتل شوی جاري نسبت باید ______________ یا زیات وي
7. ________ ______________ ______________ د بیا په کار اچونې توانايي اندازه کوي.
8. د ________________ یو نسبت ته هغه وخت ترجیح ورکول کیږي چي د ناخالص نسبت ښودونکي وي.

**لنډ ځواب:** لاندې سوالونو ته ځواب ارایه کړئ!

1 – دلاندې معلوماتو نه په استفادي سره د هغي متعاقبو سوالونو ته ځواب ارایه کړئ.

6,232,500 AF = جاري یا روانې شتمنۍ

24,380,000 AFN = غیر جاري شتمنۍ

1,200,000 AFN = فعلي یا رواني ورکوني

14,300,000 AFN = غیر جاري ورکوني

Current ratio جاری نسبت =

Net capital ratio= د خالصې سرمایي یا پانګې نسبت

Working capital= په دوران کي سرمایه یا پانګه

1. دلاندې معلوماتو نه په استفادي سره له هغې نه وروسته سوالونو ته ځواب ارایه کړئ.

3,120,000 AFN = عملیاتی مصارف

610,000 AFN = ثابت مصارف

5,660,000 AFN ناخالص عاید =

a. Operating ratio =? (عملیاتی نسبت)

b. Fixed ratio =? (ثابت نسب )

c. Gross ratio =? (نا خالص نسبت)

## بودیجه

بودیجه _ د کاروبار له پلانولو نه عبارت ده.

**د بودیجې د تهیه کولو لپاره دلایل:**

- بودیجه مالي مسوولیتونه او وظیفي پلانوي.
- د قرضې یا پور د اخستلو په خاطر معلومات په لاس راځي په دي معني چي د قرضې په اخستلو کي ګټور یا مثمر وي.
- فرصتونه تر ازماینښت لاندې راځي ترڅو بدیل لاسته راوړني په لاس راشي مخکې له دي نه چي منابع سرمایه ګذاري شي.
- کاروبار تنظیموي.

**هغه منابع چي د بودیجي د طرحه کولو په وخت کي تراستفادي لاندې نیول کیدلی شي :**

- د کاروبار واقعي اسناد او سوابق.
- د مالي وضیعت د ارقامو راپور او خلاصه یا لنډیز
- نمونئي ارقام
- له ورته یا مشابه کاروبار څخه ارقام او معلومات
- د کمپیوټر یا محاسبې منابع

TM: 2-2

**ENTERPRISE BUDGETS**

**د تشبث بودیجه**

تشبث (Enterprise) --- د ټول کاروبار یوه برخه په نامه د تشبث سره یادیږي.

**د تشبث بودیجه (*enterprise budget*)** له یو مشخص تشبث پوري مربوطه مصارف او لاسته راوړني له ټول کاروبار نه تعین او ټاکي.

**د تشبث له بودیجې نه استفاده کول:**

- د کاروبار د سرمایي ضروریات تعین کوي چي د تشبث لپاره ضروري یا اړین دي.
- د کارګر یا کارکونکی ضروریات تعینوي چي په تشبث کي له هغې نه کار اخستل کیږي.
- قرض دارانو ته د قرض یاپور پیسو د استعمال موارد یا ځآیونه په ګوته کوي، چي پیسي په څه ډول به په مصرف ورسیږي.
-

**د تشبث د بودېجې دري اجزاوي:**

- لاسته راوړنه دا په ګوته کوي چي عاید تولید شوی دی.
- مصارف باید چي د ثابتو مصارفو او متحولو یا متغیرو مصارفو د کتګوري ښودونکي وي.
- د تشبث د نفع عایدات ښایي.

TM: 2-3

**PARTIAL BUDGETS**

بونډه ئیزه بودیجه

بونډه ئیزه بودیجه(*partial budget*)_ د ممکنه تغیر په برخه کي مصارف او لاسته راوړنې د تشبث په کاروبار کي ښایي.

**له برخه لرونکي بودیجې نه څه وخت کار اخستل کیږي؟**

- په هغه وخت کي جي تشبث ته پراخوالی ورکول شي.
- په هغه وخت کي چي د تشبث بدیل علاوه کړل شي.
- په هغه وخت کي چي د تولید په کړنو کي تغیر منځته راشي
- په هغه وخت کي چي نوي تجهیزات اخستل کیږي.

**ونډه ائیزه بودیجه (partial budget) څلورو سوالونو ته ځواب وړاندي کوي:**

- کوم اضافي عایدات به په لاس باندې راشي؟
- څه مصارف(د تولید قیمت) به کموالی وکړي؟
- کوم مصارف(دتولید قیمت) به اضافوالی وکړي؟
- کوم عواید به لاسه ووځي یا لاړ شي؟

TM: 2-4

## FINANCIAL RATIO

مالی نسبت

**مالي نسبتونه مالي ارزښت لرونکي معلومات برابروي يا وړاندي کوي:**

- مالي نسبتونه د کاروبار قوي نقطي او ضعيفه نقطي په نښه کوي.
- مالي نسبتونه د قرض يا پور ورکونکی لپاره اهميت يا ارزښت لري.
- د قرض يا پور اخستلو لپاره مالي نسبتونو ته اړتيا يا ضرورت ليدل کيږي.

TM: 2-5

## NET WORTH STATEMENT RATIOS

د خالص ارزښت د نسبتونو شرحه کول

جارى نسبت (نقدينگى) =د جاري يا روانو شتمنيو مجموعه تقسيم په جاري يا روانو ورکونو په مجموعه.

د ارزښت په نسبت جاري پور يا قرض = مجموعي ورکوني تقسيم پر خالص جاري يا روان ارزښت.

د شتمنۍ سره د ورکونې نسبت = د ورکونو مجموعه تقسيم پر خالص ارزښت.

د خالصې سرمايي يا پانګې نسبت (solvency) = د شتمنيو مجموعه تقسيم پر د ورکونو په مجموعي.

په دوران کي سرمايه يا پانګه = فعلي يا جاري شتمنۍ منفي جاري ورکوني.

TM: 2-6

## INCOME STATEMENT RATIOS

## د لاسته راوړنې د نسبتوو شرحه

عملیاتی نسبت  = عملیاتي مجموعه مصارف تقسیم پر ناخالصې لاسته راوړنې.

ثابت نسبت = د ثابتو مصارفو مجموعه تقسیم پر ناخالصه لاسته راوړنه.

نا خالص نسبت = د مصارفو مجموعه تقسیم پر ناخالصه لاسته راوړنه.

## USING A PARTIAL BUDGET

له ونډه ئيزې بوديجې نه استفاده كول

**مقصد:**

د ونډه ئيزې بودېجي نه د استفاده كولو په خاطر د تمرين برابرول

**طريقه كارى يا پروسيجر:**

له تهيه شوى فارم څخه په خالصه لاسته راوړنه باندې د تاثير تشخيص كه چيري لاندې تغير وارد شي، استفاده وكړي .

تاسې د ۱۲۰ هكتارو څمكې د جوارو د ميده كولو(combining) لپاره چي په يو هكتار كي ٤٧٥٠ افغانۍ استخدام شوي وي.تاسې كولى شى چي د في هكتار لپاره كمباين په ٤٠٠٠ افغانيو په كرايه ونيسي ولي تاسې بايد چي تيل، مبلايل او گريس په خپله غاړه واخلئ. تاسې څنگه تخمين يا آټكل كولى شى چي ددي ټولو قيمت به ۲٥٠ فغانۍ د يو هكتار لپاره شي.
خودتان با ماشين فرض كړئ چي ستاسې كارگر ۳۷٥ افغانۍ د يو ساعت په خاطر ارزښت لري،(د يو هكتار لپاره دري ساعته كارگر ته اړتيا ده) تاسې دا احساس كړى چي تاسې كولى شى ۲٥٠ اضافي افغانۍ د يو هكتار له جوارو نه په لاس راوړى په داسې حال كي چي خپله تاسې په ماشين باندې كار وكړئ.
په خالصه لاسته راوړنه باندې تخميني يا آټكلي تاثير به څۀ وي كه چيري تاسې كرايه اخستلو ته تغير وركړى.

**د ونډه ئيزې بوديجې فارم يا فورمه**

| | | | |
|---|---|---|---|
| اضافى مصارف | ______ AFN | اضافى مصارف | ______ AFN |
| عايدات كم شوي دي | ______ AFN | عايدات كم شوي دي | ______ AFN |
| الف ) د اضافي مصارفو مجموعه او كم شوي عوايدو مجموعه | ______ AFN | ب ) د اضافي مصارفو مجموعه او كم شوي عوايدو مجموعه | ______ AFN |
| په خالصه لاسته راوړنه كي تغير(ب – الف ) Net change in income (b-a) | | | ______ AFN |

LS KEY: 2-1

**له وندۀ ئیزي بوديجي نه استفاده کول**

**د ونډه ئیزي بوديجې فورمه یا فارم**

| | | | |
|---|---|---|---|
| اضافی مصارف<br><br>4000 × 120 = 480,000<br>250 × 120 = 30,000<br>375 × .3 × 120 = 13,500 | 523,500 AFN | اضافی مصارف<br>4750 × 120 = 570,000 | 30,000 AFN |
| کم شوي عواید | 0 AFN | کم شوي عواید | 570,000 AFN |
| الف ) د اضافي مصارفو مجموعه او کم شوي عوایدو مجموعه | 523,500 AFN | ب ) د اضافي مصارفو مجموعه او کم شوي عوایدو مجموعه | 600,000 AFN |
| په خالصه لاسته راوړنه کي تغیر(ب – الف ) Net change in income (b-a) | | | 76,500 AFN |

WS: 2-2

## د خالص ارزښت د نسبتونو تعین یا ټاکل

**مقصد:**

له مالي نسبتونو نه په استفادي سره د خالص ارزښت شرحه او تحلیل.

**طریقه کاری یا پروسیجر:**

دلاندې معلوماتو نه په استفادي سره د هغې راتلونکو سوالونو ته ځواب ارایه کړئ.

| | |
|---|---|
| جاري یا روانې شتمنی | 4,710,000 AFN |
| غیر جاري یا روانې شتمنی | 16,418,150 AFN |
| جاري یا روانې ورکړې | 2,400,000 AFN |
| غیر جاري یا روانې ورکړې | 6,516,450 AFN |

a. جاري یا روان نسبت څه شی دی ؟ ______________

b. جاري یا روان پورونه د ارزښت په نسبت څه شی دی ؟ ______________

c. د ورکړې نسبت شتمنی ته څه دی؟ ______________

d. د خالصي سرمایي یا پانګې نسبت څه دی؟ ______________

e. د دوران په حال کې سرمایه یا پانګه څه شی ده؟ ______________

LS KEY: 2-2

## د خالص ارزښت د نسبتونو تعین کول

f. جاري يا روان نسبت څه شی دی ؟ 1.96:1

g. جاري يا روان پورونه د ارزښت په نسبت څه شی دی ؟ 0.02:1

h. د ورکړې نسبت شتمنی ته څه دی ؟ 0.76:1

i. د خالصي سرمايي يا پانګې نسبت څه دی ؟ 2.37:1

j. د دوران په حال کي سرمايه يا پانګه څه شی ده ؟ 2,310,000 AFN

WS: 2-3

## د لاسته راوړنې د شرحې تحلیل

**مقصد:**

د مالي معلوماتو نه په استفادي سره د خالصې لاسته راوړنې تعین یا ټاکل

**طریقه کاری یا پروسیجر:**

دلاندې حالت لپاره د خالصې لاسته راوړنې تعین کول، دواړه د نقدو پیسو محاسبه(cash accounting) او معلقو پیسو محاسبه(accrual accounting) استعمال کړئ.

| | |
|---|---|
| عملیاتی مصارف | 2,800,000 AFN |
| ثابت مصارف | 500,000 AFN |
| ناخالصه لاسته راوړنه | 6,250,000 AFN |

a. عملیاتی نسبت څه دی ؟ ____________

b. ثابت نسبت څه دی ؟ ____________

c. د ناخالصې لاسته راوړنې نسبت څهٔ دی؟ ____________

| | |
|---|---|
| عملیاتی مصارف | 8,750,000 AFN |
| ثابت مصارف | 1,000,000 AFN |
| ناخالصه لاسته راوړنه | 23,750,000 AFN |

- عملیاتی نسبت څه دی ؟ ____________
- ثابت نسبت څه دی ؟ ____________
- د ناخالصې لاسته راوړنې نسبت څهٔ دی ؟ ____________

LS KEY: 2-3

- ❖ عملیاتی نسبت څه دی ؟ 0.45:1
- ❖ ثابت نسبت څه دی ؟ 0.08:1
- ❖ د ناخالصې لاسته راوړنې نسبت څۀ دی ؟ 0.53:1

- ❖ عملیاتی نسبت څه دی ؟ 0.37:1

- ❖ ثابت نسبت څه دی ؟ 0.04:1
- ❖ د خالصې لاسته راوړنې نسبت څۀ دی ؟0.41:1